اتفاق

دوه قدمه سره کډ شي کام تري جوړ شي
د پرسر پي چې سره یو شي قام تري جوړ شي
کوري نه چې د اومغړی تار له زوړه
یو مضبوط اوسنګار کوونکی دام تري جوړ شي

اتحاد

یو موخدای، یو ایمان، یو رسول یو قرآن
یو منزل، یو کاروان، یو موسود یو موزیان

اتحاد مونشان، اتحاد کې موشان

یوموده وروروڼي، یو موغم، خوشالي

مونږ د یو پسرلي

غوړېدلي ګلان

اتحاد مونشان، اتحاد کې موشان

مونږ له یو بلې ځار، مونږ د یو بل په کار

مونږ د لورتیا په لار

په یوصف کې روان

اتحاد مونشان، اتحاد کې موشان

پاک زمونږ روح وتن، ګران په مونږ خپل وطن

د میرانې په فن

مونږه پوه یاتوران

اتحاد مونشان، اتحاد کې موشان

یومنزل، یوکاروان، یوموسود، یومونزیان

اتحاد مونشان، اتحاد کې موشان

د څلورو شهیدانو مور

خَنساء (رض) د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د عربو یوه مشهوره کونډه شاعره تیره شوې ده. په قادسیې جګړه کې کافرو د

مسلمانانو د ماتولو له پاره د پر زیات پوځ راوستی
ؤ او پر مسلمانانو یې توره تیاره جوړه کړې وه.
خنساء (رض) خپل څلور ځلمي زامن راغونډ
کړل او ورته ویې ویل :

« بچیو ! ماستاسې په روزنه او پالنه
کې د پرې خواږه کاللې دي . باور وکړئ
چې ماستاسې له پلار سره خیانت نه دی کړی.
ننه د کفر او اسلام مقابله ده . زه تاسې ټول
له اسلام نه ځار ول غواړم. ځئ ورشئ سرونه
په تلي[1] کې ونیسئ او د دښمنانو زړونه غلبیل

---

(۱) وړغوی - لاس .

کړئ » .

زامنو يې چې د خپلې بوډې مور پاڼې[1] خبرې واورېدې ، نو ميدان ته راووتل او پر دسښمن يې د زمري په شان برید وکړ ډيرزيات کافرې ووژل ، اوترهغې وجنګيدل ، چې شهيدان شول .

خنساء (رض) چې د زامنوله شهادت خبر شوه ، نو دواړه لاسه يې اوچت کړل اوويې ويل :

پاکه خدايه ! ستا په شکرونه دي ، چې نن راته د « شهيدانو مور » وويل شوه .

---

(۱) پاڼې ښځونکې او تسلي ورکوونکې .

لويي شيطاني کاردی

لويي مه کوئ ، لويي کارد شيطان دی
پر رښتينې لاره تلل کار د انسان دی
چې بدي يې کار ونه کا رشي ، نوحيوان دی
په خبره چې وي تينګ ، سړی مسلمان دی
سړی کار ونه کړئ ، په ښو آباد جهان دی
لويي مه کوئ ، لويي کارد شيطان دی
پټول د بدو بد دي ، اقرار وکړئ
رښتيا وايئ ، له دروغو انکار وکړئ

د اسلام خدمت په صدق[1] په جګړو[2] کړئ
میرنتوب په هر میدان په هر ښار وکړئ
سنه کار ونه کړئ په سنو آباد جهان دی
لویي مرکوئ لویي کار د شیطان دی
عمل د پر، خبرې لږې او تللې
همیش کار وي په دنیا کې دښاغلي
په بد یو خپله خوله نه کړئ ناولې
لویو خلکو همیشه رښتیا ویلې
سنه کار ونه کړئ په سنو آباد جهان دی
لویي مرکوئ لویي کار د شیطان دی

۱- رښتیا . ۲- سنګاره ، څرګند.

سبق وایئ مدرسه کې هم په کور
چې ناپوهه وي ژوندون ئې شي دکور
عزت وکړئ د خپل پلار او مور او خور
چې څوک درنکړي د بد عادت پېغور
سبز کار ونکړئ ، په سبو آباد جهان دی
لویي مه کوئ ، لویي کار د شیطان دی
سبق و وایئ په مینه ، محبت
کتاب دی سبق ، دی د خدای رحمت
نه شته بې له علمه بل ښکلی نعمت
چې سبق و وایئ ، نه وینې زحمت

سبر کار ونه کړئ، په سبو اباد جهان دی
لويي مرکوئ، لويي کار د شيطان دی

پوښتنې

۱- جهان په څه شی آباد دی ؟
۲- د ناپوه ژوند څنګه تېريږی ؟

متلونه

سبر مې غواړه، سبر به دې غواړم .
خپله لاسه، ګله لاسه .
صبر د سبې لارې ملګری دی .

صورت يې غټ، په کار کې لټ .
د ليوه بچی آخر ليوه شي .
کار اسان دی ، پيل يې کړان دی .
کار چې بې استاد وي ، بې بنيادوی .
کړ ه خوله په سوک سمبر ي .

پوښتنې

۱ - همد غسې يو څو متلونه له ځانه وليکئ ؟
۲ - لومړی متل په بله ژبه ووايئ ؟

سنا غلی سبوونکی دې هرشاګرد مؤظف کړي چې پخپله خوښه د يوه متل په برخه کې څه وليکي .

بسم الله الرحمن الرحيم

مناجات

سوال مې دی تاته غنی[1] غفار[2] ه

محروم می نه کړې له خپل دربار ه

ستا د دربار یم، زه امید وار ه

محروم[3] مې نکړې، له خپل دربار ه

---

(۱) شتمن (۲) بښونکی (۳) بې برخې

په خاورو کې کلونه

په ورو ورو پرې قدم ږده چې زهیر نشي
ستا دلاندې دي، کلونه چې ژوندي وو

دغه خاوري نه دي خاوري چې ته بولې
سره کلونه هسکې غاړې چې ځلمي وو

یو ښایست د دې جهان ؤتري جوړشوی
چې ترکومه دوی په خپل عمر بندي وو

د اجل[1] پیاله یې وځښله خاموشۍ[2] شول
خاورو وخوړه، زاړه وو کړ ځلمي وو

---

(۱) مهلت، نیټه . (۲) غلی، چپ .

„شاه„ داوارډی چې پرهرچا باندې بویږ
د پروتېره کړه که خپل وو، که پردي وو

پوښتنې

۱ـ ددې شعر دویمه مسرې په ساده نثر واړوئ ؟

۲ ـ له اجل، خاموش او ځلمي نه جملې جوړې کړی ؟

آیا پوهیږئ ؟

چې :

ـــ یوسف علیه السلام په سنګلاوسنایست مشهور و ؟

ـــ داؤد علیه السلام په سنه آواز مشهور و ؟

ـــ یعقوب علیه السلام په غم مشهور و ؟

ـــ ایوب علیه السلام په صبر مشهور و ؟

ـــ نوح علیه السلام په زیات عمر مشهور و ؟

ـــ زکریا علیه السلام په حیا مشهور و ؟

ـــ ابراهیم علیه السلام په قربانی مشهور و ؟

—— رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په رښتیا اوامانتداری مشهور و ؟

—— ابوبکر صدیق (رض) په صدق او رښتیا مشهور و ؟

—— عمر (رض) په عدل مشهور و ؟

—— علی کرم الله وجهه په میړانه اوزړه ورتیا مشهور و ؟

—— عثمان (رض) په سخا او ورکړه مشهور و ؟

سنا غلی سنوونکی دې شاګردان وپوهوي چې :

[آیا پوهیږئ ؟ چې :] عبارت دهرې جملې په سر کې تکرار یږي .

احمق[1] څوک دی؟

چې مې سنې په زړه کې فهم[2] فکر وکړ
احمقان را ته سنکاره شول په خویونو

یوهغه سړی احمق بللی[3] ښوبه
چې باور کړي د غلیم په سوکندونو

بل هغه سړی احمق بللی ښوبه
چې پادو[4] شي د لرهمو د مارونو

۱- ناپوه ، ساده .
۲- سوچ اوغور .
۳- کنلی .
۴- پاروکړ .

بل هغه سړی احمق بللی بویه[1]

چې په هر طبیب داروکړی درغلونو

بل هغه سړی احمق بللی بویه

چې خبری کا په ستړکو پرلاسونو

بل هغه سړی احمق بللی بویه

چې به دی غواړی لویي په نسبونو

بل هغه سړی احمق بللی بویه

چې بربند، لغړ به لامبی په سیندونو

بل هغه سړی احمق بللی بویه

چې غوږ نړکاد خوشحال په داحرفونو[2]

۱، پرکاردی، سنایي . ۲ - توړي، لفظونه .

د لمرتندر

اسد په کور کې په درس بوخت ؤ، چې د لمر رنا ورو، ورو تتره شوه. د هرچا ورته پام شوا وشو رشو چې هلۍ لمرتندرونیو. چا به کلمې ویلې او چا به لمرته دعاوې کولې چې تندر پې پریږدي. چا به ویل: له ځایه ونه خوځۍ.

اسد خوا رحیران و، چې دا څه چل دی؟ بې واره بې واره یې یوځو پوسښتنې وکړې، خو چا سم ځواب ورنکړ. لږه شیبه وروسته

لمر ببرته روغ شو او رڼا يې خپل ځای ته
راغلر .

مازیګر چې د اسد پلار کاله ته راغی ،
نوده تري پوښتنه وکړه چې د انن په لمرځ
شوي وو ؟

پلار يې وويل : بچيه ! نن لمر تندر نيولی
ؤ مختلف خلك پرې بيل بيل کومانونه کوي.
څوك وائی لمر اوسپوږمۍ په رڼا ورکولو ستړي
شي نو لږ شيبه دمه کوي . ځينی افريقايان
لا داهم وايي چې لر لمر اوسپوږمۍ نه لوی

لوی سناماران راتاوشي چې ويې خوړي، نو
داخلک بیا د تندر پروخت غټ غټ ډولونه
غږوي، چې په شور يې لمړا وسپوږمۍ د
سناماراونوله شره خلاصه کړي. خپرداخو
هسې دناپوهو خبرې دي. د تندر اصل سبب
عالمانو معلوم کړی دی چې:

د خدای تعالیٰ په قدرت ځمکه له لمر نه په یوه
کال کې چاپیره چورلي. په دې چورلیدو کې
کله داسې وشي، چې سپوږمۍ د ځمکې اولمر
ترمینځ راشي، اوځمکې ته د لمر رنا ونه رسي،
نولمر تورا وتت سنکاره شي، چې دې ته د لمر تندر

وايي . دلمر تندر



کله کله بيا داسې وشي ، چې ځمکه د لمر او سپوږمۍ ترمنځه شي ، سپوږمۍ خوخپله رڼا نه لري ، اوله لمر نه يې اخلي . سپوږمۍ ته د لمر رڼا د ورکولو پر وخت ځمکه ترمنځه شي او د لمر رڼا نه پرې بې بې چې پر سپوږمۍ ولګي .

نو پر سپوږمۍ د ځمکې سيوری وشي او د سپوږمۍ

ربه قدیم[۴] یې ، رحمان[۵] ، رحیم[۶] یې

پربنډ کا نو ډیر زیات کریم[۷] یې

خپور دې بخښش دی هرچا لپاره

محروم می نکړې له خپل دربارہ

ستاپه سپېڅلیو ، پاکونومونو

په غوره غوره ، سنو صفتونو

سوال مې له تا دی ، پروردګاره

محروم مې نه کړې ، له خپل دربارہ

مخلوقات واړه ستا ثنا خوان دي

که دي پرځمکه ، یا پر آسمان دي

۴، پخوانی ۵، بښونکی ۶، مهربان ۷، سخي ، مهربان

یوه خوا توره کړي ، چې دې ته د سپوږمۍ
تندر وایي

پوښتنې

۱- ځمکه په څومره موده کې له لمر نه چاپېره
چورلي ؟

۲- سپوږمۍ خپله رنا لري، اوکه نه ؟

۳- لمر ولې تندر نیسي ؟

شهیده !

نوم دې خپور شوی په نړۍ کې نومور شهیده !
په ایمان لاړې له دنیا نه بختور شهیده
تاپه سر وویني د اسلام باغچه سمسور کړله
ستا قرباني به یاد وم د زړکي سر شهیده
زه دې په هر څاڅکي دوینې باندې ویاړم تل
ځار شم ، لوګی شم ، ستا په وینو سور سنګر شهیده
زما سوکنددی ، ستا په وینو سور سنګر به پالم
درته لوګی به غلیمان کړم اخکر[1] شهیده

---

(۱) سکروټي ، انګار .

تا د قرآن په ننګ خوږ ځان وارې[2] کړه

دا شهادت دې بختور شه زړه ور شهیده

غلبیل غلبیل دې خپل ځیګر کړ په کولیو باندې

وینې دې وایي هر دم الله اکبر شهیده

ستا پر زیارت باندې د یوې اوښالو نه چورلي

درته را در ځومي[3] پریښتې ما بنام سحر شمیده

دا زه "کوهر" درته دعا هره شپه بر کومه

ستا مرتبې دې شي اوچتې په محشر شمیده

۲- ځار ، قربان . ۳- راځي

ښې مشورې

يوسړی په سفر روانيده ، يوه هوښيار
سړي ته د مشورې له پاره ورغی ، چې له چا
سره ملګرتيا وکړم اوله چا نه ځان وساتم ؟
هوښيار سړي ورته وويل :
له اتو کسو نه ځان ساته !
۱ـ چې احسان دې نه مني .
۲ـ چې خوشې په خوشی قهر ورځي .
۳ـ چې له آخرته بې پرواوي .

۴- چې تک اوغولوونکی وي.

۵- چې هوسي او حرصناک وي.

۶- چې بې حیا وي.

۷- چې دروغجن وي.

۸- چې بدګومانه وي.

د دغسې اتوکسو په لټه کې اوسه:

۱- چې نېکي اوسنه دې مني.

۲- چې په سخته کې دې له اشنایې نه لاس وانه خلي.

۳- چې وینا او کړه (عمل) یې دواړه سپېڅلي وي.

۴ - چې بې کبره وي .

۵ - چې عقل يې ترقهره زيات وي .

٦ - چې بې تمې سخي وي .

۷ - چې باادبه وي .

۸ - چې د نيکانو ملګری وي .

لنډۍ

چې پرې ملکونه آزاد ېږي
هغو ځلمو ته خدای ورکړي قوتونه
د مسلمان د زړه جذبې دی
شوروېان واړه د آرمان نارې وهینه
مُحَمَّدیٰ[۴] بیرغ ړپېږي
ځوانان ټولیږي ورته سر قربانوینه
یا به مې خپل وطن آزاد کړم
یا به مې وینې په سنګر کې توې شینه
افغانستانه پرما ګرانه
د ږنه به ځار کړم د تن غوښې هډوونه

ترهسکو غرونو دې لوکی شم

افغانستانه زه روسان درنه شرمه

زما تکیه پر پاک الله د ه

چې پرد سنمن باندې وروږه یرغلونه

ځوانانو تول توپک راواخلئ

افغانستان ته شوروپان راغلي دینه

د لوړو غرونو پر سرکړئ

غازي لالیه درسره سنګر ته ځمه

که د اسلام په ننګ شهید شوې

کوهزه نوم به دې ترعمره یاد وینه

د بودې تال

کله کله به مولیدلي وي ، چې تر بارانو ورو سته
چې لمر راښکاره شي ، نو د آسمان په لمن کې سري
او زر غوني (شني) غوندې نیم دایره کرښې
هم ورسره ښکاره شي ، چې دې کرښو ته د بودې
تال یا "شنه زرغونه" وایي . که سهار وي ، نو د
بودې تال قبلې یا لوديځ لورې ته وي ، او که
ماسپښین وي نو لمر خاته لورې ته راښکاره
کیږي . یعني د بودې تال همېشه د لمر
ستر کې ته مخامخ وي .

لمرستر ګه په لومړي سر کې سړي ته
سپينه سنګاري ، خو په اصل کې سپينه نه ده ،
بلکې لمرستر ګه له اوو رنګونو جوړه ده . که
غواړئ چې اوه واړه رنګونه د رته بېل بېل سنګاره
شي د شيشې ژې (څنډه) لمرستر ګې ته مخامخ
کړئ ، چې پلوشي يې پرې ولګي ، د سنيښې
بل لوري ته يو سپين کاغذ کېږدئ ، وبه وينئ
چې د لمړنۍ له سنيښې تېرېږي او پر کاغذ
پرېوځي ، نو په دغه وخت کې که د کاغذ پر مخ
پرتې پلوشي (وړانګې) وشمېرئ ، نو اوه رنګه
به وي . لومړی رنګ به بنفشي وي ، دويم نيلي ،

ثناد تاکا ای کړد کا ړه

محروم مې نه کړې له خپل دربار ه

څښتن مې ته یې، خوښی د تاده

ستا په خوښۍ کښې زما رضا ده

ته پرده پوښې یې پاکه ستّار ه

محروم مې نه کړې له خپل دربار ه

---

(۸) پرده پوښې

ورپسې آسماني ، شين ، زيړ ، نارنجي اوسور به
ترټولو ورنکونو لاندې وي .

په هدې ډول د بوډۍ تال جوړيږي . د باران
څاڅکې هم د بلورې سنبينې کار ورکوي ، اوچې د لمر
پلوشې ترې تيرې شي ، نو او وه رنګونه د آسمان يوې
لمنې ته سنګاره شي چې مونږ يې د بوډۍ د تال پرنامه پيژنو .

پوښتنې

۱ـ د بوډۍ تال څنګه جوړيږي ؟

۲ـ د بوډۍ تال کوم کوم رنګونه لري ؟

۳ـ د بوډۍ تال په جوړيدو کې د باران څاڅکي
څه شي کار ورکوي .

دقاضي هوښيارۍ

يوه سړي يو صراف (۱) ته څه امانت پيسې ورکړې او په خپله په سفر لاړ، څه موده وروسته له سفره راستون شو، له صراف نه يې خپل امانت وغوښت، صراف مُنکِر شو، ويل ما ستا پيسې ښځې لیدلې نه دی.

سړی قاضي ته لاړ او خپل حال يې ورته تېر کړ، قاضي سړی رخصت کړ او صراف يې راوغوښت. ورته يې وويل:

زه يواځې يم او کار مې نه راباندې زيات دي،

(۱) هغه سړی چې پيسې بدلوي، د نړۍ پلورنکي ترهم صراف وايي.

رانه پوره کېږي نه، له پرونه راهسې مې ته
په زړه کې کړئ چې راسره مرسته وکړې او زما
مرستیال[1] شې ، ستا پرهېرکاري او دینداري
مې ډېره خوښه شوې ده .

صراف ډېر خوشاله له قاضي نه رخصت شو.

قاضي د پیسو خاوند راوغوښت، ورته یې
وویل اوس صراف ترورشه او پیسې دې وغواړه.

سړی چې صراف ته ورغی هغه د قضا
(قاضی توب) په خوشحالۍ کې و، له ورایه یې
پرې غږ وکړ ، سبه دې چې راغلې، هغه پیسې

(۱) معاون ، مددګار ، کومك کوونکی .

دې له موږ کړه پاتې وې، زما ببخې له یاده
وتې وې، ببکارا یادې شوې.

سړې خپلې پیسې واخیستې او صراف چې
سباد کار له پاره قاضي ته ورغې، هغه ورته
وویل:

نن سترقاضي ته تللی وم، هلته خبر شوم
چې تاته کوم بل لوی کار درسپارې. ته هملته
کار وکړه او خیردی زه به د ځان له پاره بل
څوک وګورم.

غازیانو ته سلام

لوی نوم مو مبارک شرای غازیانو د اسلام

پر تاسې دی سلام

په سرو وینو مو کل کړل کلی کلی ښار او ښار

د یو الله پر لار

دا نن نه، د غه کار د مسلمان دی شامدام

پر تاسې دی سلام

په وینو مو کل رنګې کړې جامې دباتورې

لایق د سروړې

په لاسو کې توپکې، په تخرکونو کې کلام
پرتاسې دی سلام
په خاورو خړو خړو ای کلونو د جنت
لایق یئ د عزت
غازیانو! پرښتې کوي د پرستاسې احترام
پرتاسې دی سلام
سلام پر هغو وارو مجاهدو او غازیانو
پر پاکو شهیدانو
نصیب مو په میدان د شهادت کړ آخر جام
پرتاسې دی سلام

ځوانمردو ننګیالوچې دی ګټلی مومیدان

عزت موکړي آسمان

بیدارو، ایماندارو ای ګلونو د اسلام

پرتاسې دی سلام

عدل

نوشیروان یو عادل پاچا تیرشوی دی ، یوځل ورته د روم پاچا یو استاځی (قاصد) ورولیږه ، استاځی چې دربار ته ورسید، کوږې چې د پاچا یوه سنګلې لویه مانۍ ده، وزیران او حاکمان پکې پرځوکیو ناست دي . قاصد

مانۍ لاندې باندې ترسترګو تېره کړه، مانۍ
بېشانه سنبلې وه، خو یوځای وړته ترسترګو
کوږ سنبکاره شو، له یوه سړي نه یې پوښتنه وکړه،
چې په دې دومره سنبلې مانۍ کې د غه لږ ځای
څنګه کوږ دی ؟

سړي وړته وویل : پاچا چې دا مانۍ جوړه
په د غه کوږ ځای کې دیوې بودې کوره، بودې
تریې وویل چې دا ځای را باندې خرڅ کړه،
خو هغې و نه منله او خرڅ یې نه کړ. نوشېروان
دا نصاف له مخې دا نه خوښوله. چې د بودې کور
په زور لاندې کړي. نو بس مانۍ یې په هماغومره

ځای کې تیاره کړه ، چې څومره يې حد وبريد
و ، پاچا مانې کړه جوړه کړه ، خو د بودې حق
يې لاندې نه کړ .

قاصد پاچا ته ورغی ، ترپيغام وروستر
يې ورته وويل :

ستا د مانې د اکوبز والی ، ترهغې سموالي
د پرسنه دی چې په ظلم او زياتی شوی وي .

پاچا د قاصد په خبره د پرخوشحاله شو
او په انعام او درناوي يې رخصت کړ .

مجاهده

ته عاشق پر پاک الله يې مجاهده
ته مين پر مصطفی يې مجاهده
ستاد توري صفت کې بې په هرځای کې
نو ميالی پر اد نيا يې مجاهده!
نه دا ربې له تو پونو له تانکونو
الوتکې ته بلا يې مجاهده
سره روسان کمونيستان در ته حيران دي
کافرانو ته سزا يې مجاهده!

خالد بن ولید (رضی الله عنه)

خالد بن ولید د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم صحابی[1] او د قریشو په یوه درنه کورنۍ کښې زیږیدلی ؤ، چې ځلمی شو، د پیر تکړه او تورځن ځوان ترې جوړ شو، دیوه زړه ور مجاهد او یو تکړه لښکری[2] ټول صفتونه په کې وو.

په لومړی سر کې د کافرو په ډله کې و،

---

(۱) دوست، ملګری (۲) سپاهی، عسکر

د ښمنان دې ټول په خپلو وینو رنګ کړه
د مؤمن د زړه دوایې مجاهده!

دیتیم او د مظلوم د زړګي دادې
کوندو، رندو ته شفایې مجاهده

ملاتړ لی د د ښمن مخې ته درومې
توري شپې لړه سبایې مجاهده

ستا د ستر کو بلا واخلم د زړه سره
له کوهر سره اشنایې مجاهده

هوا

هوا د ژوندانه له پاره د ډېر ضروري شی دی.
انسان، حیوان، بوټي (نباتات) او مرغان ټول
هوا ته اړ دي، که هوا نه وای، یو به هم ژوندی
نه وای پاتې، که تاسې هر ساکښ شی په داسې
یوه کوټه کې بند کړئ، چې هوا پکې نه وي، لږ
موده وروسته ضرور مري. که یو بوټی په
داسې یوه ځای کې وکړئ، چې هوا پرې نه لګي،
لږ وخت وروسته به مړاوی شي.

هوا په اور بلولو کې هم ډېره پکار ېږي، په

کورونو کې برمولیدلي وي ، چې چېرته اوږه
بلېږي ، پوکی وهلې کوي . یا وهلې ببونۍ[11] وهی
چې بَل شي . که پر بله ډیوه یوکیلاس واړوئ ،
لږه شېبه وروسته ډبوه مري .

هوا څه شی دی ؟ په هوا کې دوړې هم وي
اوا وبه هم ، په کومه هوا کې چې دوړه نه وي ، هغه
پاکه اوصافه وي ، خو په هوا کې ځینې نورځیزونه
هم وي ، چې په سترګو نه لیدل کېږي ، چې هغوته
ګازونه (غازات) وایي ، د هوا نه یا ته برخه د
نایتروجن څخه جوړه شوې ده . چې بوټي او نباتات

---

[11] پکی

پرې ژوند کوي . بل کار نه آکسیجن وایي چې
یواځې انسان نه نه هر ساکښ اوژوي (ژوندي)
نه ضرورت دی . او ربړه همدغه کارنه بلل کېږي،
زمونږ د سا اخیستو پر وخت آکسیجن زمونږ
سږي نه ورځي ، اوچه څه وخت ساه باسو کاربن
هملته پاتې شي او نوره هوا راووځي .

د هوا د ربړې ستر ې برخې نه کاربن ډای آکسایډ
وایي . دا هم یوکتور کار دی .

څلورم کار هایدرجن نومېږي ، چې دا تر ټولو
سپک هوا ده ، که له هایدرجن نه پوکانۍ ډکه
شي ، هغه پورته هوا ته الوځي .

ساینس پوهانو دا خبره سپینر کړې اوثابته
کړې ده چې اکسیجن اوهایدروجن سره یوځای
شي، اوبه ترې جوړیږي .

اوس دا اوبه چې هوا ولې الوځي ؟ اوسیلی
له کومه کیږي ؟

پاک خدای ج، په خاوره کې دا خاصیت اینې
دی، چې ترا وبو هم تودیږي ژر اوهم سړیږي
ژر . یعني خاوره هم ژر تودیږي اوهم ژر سړیږي.

ځمکه چې توده شي نو د شاوخوا هوا یې هم ور
سره توده شي ، هوا سپکه شي اوپاس وخیژي،
د ځمکې مخ چې له هوا نه تش پاتې شي، دهغې د

د کولو له پاره د سمندر له لوړې سره هوا راشي او
د تودې هوا ځای ونیسي . د شپې له خوا چې د
سمندر هوا توده وي ، نو پاس خېژي او ځمکې
سره هوا سمندر ته ورشي . کله کله ځینې سیمې
ناڅاپه تودې شي ، نو توده هوا یې په تېزه پاس
وخېژي ، او د خالي ځای د کولو له پاره یې سره هوا
له کوم بل لوړې پرتې سیمې راوړي ، چې له همدغه تېزوالي نه سیلی
جوړه شي .

پوښتنې

۱ـ د هوا کتې وایئ ؟

۲ـ د څلور مشهور وکاز و نو نومونه واخلئ ؟

۳ـ هوا ولې الوځي ؟

ژبه

په هر دم، په هر زمان په کار ده ژبه
دهمه واړه جهان په کار ده ژبه

نااشنا اشنا کوي سره خبري
په خبرو نژدې کېږي خلک لرې

د تورځن به په کار نه وي هومره توره
لکه ژبه چې هرځای کې وي منظوره

که کتاب دی، که کاغذ دی، که قلم دی
خدمتګار واړه د ژبې دم په دم دی

په مرغانو کې توتي دی عزتمند
دا په دا چې ښې خبرې کړي دخوند

مګر دوه شرطونه ژبه کې ضروري

دغه دواړه ضروري په سبق دستور دي

اول داچې ښې صحیح کوي خبرې

چې خبرې شي په مثل مرغلرې

بل په بد ودې حوله مه خوځوه خپله

تل دې سم په اندازه وي لکه تله

بده ژبه د سړي پرځان بلاشي

خوږه ژبه له سړي چاپیر کلاشي

په یوه ژبه مطلب نه پوره کیږي

که هوسیار وي هم له سره نه پوهیږي

که حاکم وي غوږ هیڅ نشي کولی

که عالم وي طالب نه شي پوهولی

په سفر کې لکه نقشه د د ېوال.

کونګ ولاړ وي، بې مطلبه بې کماله

احمد وکړه په داشان اسان کلام
چې پوهېږي پرې ټول خلک خاص و عام

پوښتنې

۱- له توږځن، قلم، خدمتکار، دستور او مرغلرې؛
نه جملې جوړې کړئ ؟

۲- دالاندې بیت په خپلو کتابچو کې په سادې ژبه واړوئ؛

بده ژبه د سړي پرځان بلا شي
خوږه ژبه له سړي چا پېر کلا شي

گرانو شاګردانو!
تاسي په څلورم ټولګي کې د ژب ښوونې په درس کې "اسم" پوره لوستی دی، دا دی اوس د فعل برخه ولولئ.

ژب ښوونه:

فعل

هغه کلمه یا لفظ دی، چې له درې وړو زمانو (ماضي، حال، مستقبل) څخه یې یوه کې د یوه کار کول ښوول کیږي:

الف: ماضی فعل:

هغه فعل یا کار دی چې په تېره زمانه کې د یوه کار په کېدو دلالت وکړي:

او د مسلمانانو سخت د ښمن و ، د اُحُدْ په
غزا کې د کافرو د سورومشري د ده په لاس
کې وه ، په دغه غزا کې څه د مسلمانانو د بې
پروايۍ اوځر د ده د جنګي تجربو له امله
اسلامي لښکرته زيات زيان ورسيد. لږه
موده وروسته پرې د رسول اکرم صلی الله علیه
وسلم اخلاقو سخت اثر وکړ او ايمان يې راووړ
او تول عمر يې د اسلام په خپرولو او له
کافرو سره په جګړو کې تېر کړ .

د خالد بن وليد په لاس لوی خدای (ج)
د عراق او شام په څېر لوی لوی هيوادونه

لکه :

لاړم ،لاړو ،لاړې ،لاړئ ،لاړ،لاړل.

ماضي فعل پر پینځو ډولو دی :

۱- مطلقه ماضي :

مطلقه ماضي هغه ده چې په تېره زمانه کې دیوه کار کېدہ وښیي ، بېله دې چې له فعل سره څه صفت یو ځای وي .

لکه : لاړم ، لاړې ، لاړ .

۲ - استمراري ماضي :

هغه ماضي ده ، چې په تېره زمانه کې دیوه کار کېدہ داسې وښیي، چې جاري او روان وي لکه :

تلم ، تلې ، تله، تلو، تلئ ، تلل .

۳- نقلي ماضي :

نقلی ماضي پردوودولوده ، يوهغه چې د يوه کار بېخي بشپړېدل نبيي .

لکه : کتاب مې لوستی دی .

بله هغه ده چې په بشپړه توګه دیوکار کېدل نه سبيي .

لکه : ځلمی ولاړدی ، هلك ویده دی .

٤- بعيده يالرې ماضي :

هغه ماضي زمانه ده ، چې په لرې زمانه کې دیوه کار کېدل وسبيي .

لکه: تللی وم، تللی وې، تللی ؤ.

۵ - التزامي یا شکي ماضي:

هغه ماضي ده چې دیوه کار په کېدو کې شک او دوه زړې سنبیي.

لکه: راغلی به وي، غوړځېدلی به وي، ستړی شوی به وي.

ب: مضارع یا حال فعل:

حال یا مضارع هغه زمانه ده، چې په اوس وخت یا زمان کې دیوه کار (فعل) کېدہ وسنبیي چې دکومې ځانله طریقې له مخې نه جوړېږي، له مختلفو مصدرونو نه په بېل بېل ډول جوړېږي:

لکه : ځم ، ځې ، ځو. خورم ،لیکم،لولئ .

ج : مستقبل یا آینده فعل :

هغه فعل دی چې په راتلونکې زمانه کې دیوه کارکېدل څرګندوي .

لکه : رابه شم ، رابه وې ، وبه لیکي ..

د : امر فعل :

هغه فعل دی چې دیوه کار دکولو امر او حکم پکې شوی وي لکه : ولیکه، لاړشه، وخوړه ، وځښه ، البته په امر فعل کې د یوه پرله پسې کارکول ، ځانله دود اوقاعده لري.

لکه : لیکه ، ځه ، خوړه ، ځښه .

چې دې ته استمراري اوجاري امر هم ویلای شو.

اوداسې جوړیږي چې له امر فعل (ولیکه، وخښه او ...) څخه (و) لرې کیږي او نوره کلمه په خپل حالت پاتې کیږي.

هـ : نهی فعل :

هغه فعل دی چې دیوه کار د نه کولو حکم پکې پروت دی.

لکه : مه لیکه، مه ځه، مه خوره. د فعل له دې ډول نه استمراري (جاري) حالت نه جوړیږي.

و: متعدي فعل:

هغه فعل دی چې دیوه کار په کېدو کې پر کوونکي یا فاعل سربېره مفعول ته هم ضرورت وي. لکه:

ببول، خوړل، ژړول، راوستل، وژل.

(ما خلمی راووست) په دغه جمله کې ما فاعل، خلمی مفعول او راووست متعدي فعل دی، چې له (راوستل) څخه جوړ دی.

ز: لازم فعل:

هغه فعل دی چې په ترسره کېدو کې ئې مفعول ته ضرورت نه وي، او یوائې په فاعل

ترسره شي .

لکه : تلل ، خندل ، ژړل ، څملاستل .

پوښتنې

۱ - فعل تعریف کړئ .

۲ - فعل د زمانو له مخې پر څو ډولو دئ ؟

۳ - څو ډوله ماضي پیژنئ . له مثالو سره یې ولیکئ ؟

۴ - د غه فعلونه په کومې کومې زمانې پورې اړه لري :

راغلم ، وبه لیکم ، تلم یا تللم ، لیکلای بریې وي .

عمل دلاري مل

کړ ګلوکړه چې سيمه دې ګلزارشي
اغزی مرکړه په پښو کې بډې خارشي
ته چې بل په غشو ولې، هسې پوه شه
چې همدا غشي به ستا په لورګوزارشي
کوهي مه کنه دبل سړي په لارکې
چې ډېرې ستا به د کوهي په غاړه لارشي
کړته نه کوی نظر دچاوعيب ته
هرسړی به ستا د عيبو پرده دارشي

د مات لوښي او ازګله ثابت خپژي

د هرچا عمل څرګند په خپل ګفتار شي

لږه نړده، کړ هر څوي ګناه لږه

چې دا لږه لږه جمع شي بسيار شي

هغه زړه بر له طوفانه پر امان وي

چې کښتۍ غوندې د خلکو بار برداشي

(رحمان بابا)

پوښتنې :

۱ـ د اشعر په ساده تکو ولیکئ .

۲ ـ له دې لفظونو نه جملې جوړې کړئ :

سیمه، نظر، پرده دار، امان .

فتح کړل . خالد بن ولید (رض) دومره تکړه
اوتوریالی ځوان ؤ ، چې په یواځې ځان یې
څوځوځله د کفارو پرلسګرو برید ونه کړې
وو. او بری یې موندلی وه خالد (رض) به ویل:
چې یومسلمان مجاهد پرسوونوکفارو برلاسی
دی ، هغه په جنګي لاړو چاروو ډیر پوه و .
د خالد بن ولید (رض) دکلك ایمان اوپخې
ارادې کیسې ډیرې مشهورې دي . یوځل په
عراق کې و اوپه دغه ډګر کې له کافرو سره
په جګړه بوخت و ، چې حکم ورته وشو، چې
په شام کې د اسلامي لسګر مرستې ته ځان

ژر تر ژره ورسوه . له عراق نه شام ته د وه
لارې تللې وې . يوه لنده وه ، خو بېخي وچه
اوشاړه وه او بله آباده اوآسانه خوه يره اوږده
وه ، خالد بن وليد (رض) . په کې هماغه سخته
لار له دې امله خوښه کړه ، چې ځان د مسلمانانو
مرستې ته ژر ورسوي . په دې هوسبيارۍ
يې د ضرورت نه زيات اوښان د ځان سره بوتلل .
د پرې د پرې اوبه يې پرې وڅښلې . چېرته به
ئې چې کاروان واړاوه يو څو اوښان به ئې ترې
حلال کړل . د اوښانو د خبتو اوبه به ئې اسونو
ته ورکړې . اوغوښه به يې پر لښکر وويشله

په دې توکه يې ځان د پرتړو په وچه لار د مسلمانانو مرستې ته ورساوه.

يو ځل يې له شپېتو ځوانانو سره د دښمن پر يو زوړ ور پوځ په ډېره مېرانه او هوسيارۍ يرغل وکړ او بری يې وکاته. هغه پرخدای پوخ ايمان او کلک باور درلود، چې په هرډکر کې به بری مومي.

خالد بن وليد (رض)، د اسلامی تاريخ يو ډېر زړه ور او نومیالی قوماندان تېرشوی دی، ځکه وړته رسول اکرم صلی الله عليه وسلم «سيف الله» يعنې [د خدای توره] وايه.

پوښتنې

۱- خالد بن ولید (رض) څوک و ؟

۲- په اسلامي تاریخ کې ولې مشهور ؤ ؟

۳- خالد بن ولید (رض) ځان د مسلمانانو مرستې ته په کومه لار ورساوه ؟

۴- خالد بن ولید (رض) ته رسول اکرم (ص) څه نوم ورکړی دی ؟



AFGHANISTAN EDUCATION COMMITTEE

دافغانستان اوربنې د تعلیم اداره

اِقرأ.....

پښتو لوست

د پنځم ټولګی لپاره

کال: ۱۳۶۶ هـ ش

پښتو ولوست

د پنځم ټولګی لپاره

۱۳۶۵ هـ ـ ش کال